ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
شپږم کال ۷۳ګڼه پرله پسی(٤٥٣)چهارشنبه د۲۲ ١٤۲۲هـ ق کال د رجب المرجب (١٦)
د ١٣٨٠هـ ش کال د میزان (١١) د ١ ٢٠٠مـیلادی کال داکتوبر (٣)

داستخباراتو لوی رئیس دتورخم له بندر څخه کتنه وکړه

ننگرهار- باختر:
داستخباراتو لوی رئیس محترم قاری احمدالله پرون دننگرهار ولایت داستخباراتو ریاست او دتورخم بند ر استخباراتی چاری او دغه ولایت دسرحداتو استخباراتی چاری وکتلی.
داستخباراتو لوی رئیس محترم قاری احمدالله چی ددغه ریاست مرستیال محترم ملا عبدالحق وثیق هم ورسره وُ دننگرهار ولایت داستخباراتو ریاست اړوندی چاری په داسی حال کی وکتلی چی په هر ه برخه کی یی ددغه ولایت داستخباراتو درئیس محترم ملا تاج میر جواد څخوا معلومات وراندی کیدل.
دغه راز داستخباراتو لوی رئیس ددغه ریاست داوپراتیفی او اداری برخوچاری هم وکتلی چی په اوپراتیفی برخه کی د اوپراتیفی مرستیال محترم قاری میرزامحمد
٤مخ

الهی فرمان

ترجمه : تاونه لېدل چی ستارب په عادیانو باندی څه وکړل (دخپل دېر طاقت سره سره بی هلاک کړل)

دکندهاراو پکتیامیشتو پولوقومونو

دظاهرشاه په ضد غږ پورته کړ

کابل باختر:
دکندهار ښار مسلمانو او میرنیو خلکوپرون دسترمارش او دپراخی غونډی په ترڅ کی دپوش او ظاهرشاه مجسمی وسوزولی او وی ویل ظاهرشاه او هر پردی گوډاگی حکومت غیځکله په افغانستان کی دپښی اېښودلو ځای نه لری. په دغی پراخه غونډه کی چی پرون سهار په اتو بجو دکندهار ښار کی دزرگونو تنو
٤مخ

عکس : دکندهار ښار یوه څنډه دشهیدانو چوک

تقبیح حملات احتمالی امریکا درسراسر کشور ادامه دارد

کابل باختر:
هزاران تن از هموطنان دیندوست وخداپرست ما دیروز نیز طی اجتماعات وجلسات وسیعی حملات احتمالی اضلاع متحده امریکا رابرحریم کشور مان تقبیح نموده حکومت های تحمیلی را درافغانستان غیر عملی خواندند.
دراین اجتماعات وجلسات که به اشتراک علما شخصیت ها و قوماندان های جهادی
ص٤

په پاکستان کی
دحکومت په ضد دخلکو کرکه په زیاتیدوده

کویته - باختر:
دپاکستان داسلامی جمهوریت دکویتی په ښارکی پرون پراخی مظاهری او مارشونه وشول او دهغو په ترڅ کی ونیا والو وویل کله چی امریکا په افغانستان باندی برغل وکړی.
له هماغه ساعت څخه دامریکا پرخلاف جهاد اعلاموو . په هغو سترو مظاهروکی چی دپاکستان دجمعیت العلمای اسلام
٤مخ

سند همکاری نظامی روسیه وایران امضاء شد

مسکو:
وزرا دفاع ایران وروسیه دیروز درمسکو یک سند همکاری دفاعی را امضا ءکردند.
دریایان دور دوم مذاکرات علی شمخانی وزیر دفاع ایران وسرگی ایوانوف وزیر دفاع ورسیه سند همکاری های دوجانبه دفاعی ونظامی میان دوکشور به امضا رسید.

یکتن زانی صد دره زده شد

فاریاب باختر :
حدشرعی یکصد دره دیروز بالای یکتن زانی درولایت فاریاب تطبیق گردید
اسامی محمد موسی فرزند محمد رسول باشنده ولایت بادغیس که چندی قبل مرتکب عمل زنا
ص٤

ددبښمن ۶ تنه قوماندانان له ۱۷۵ افرادو سره تسلیم شول

فاریاب باختر:
دمخالفینو پنځه تنه قوماندانان دخپلو وسله والوافرادو په گډون پرون دفاریاب په ولایت کی داسلامی اردو دمیشتو مجاهد ینو له لیکو سره یوځای شول .
دغه قوماندانان هر یومیراحمد ، عبدالغنی ، بردار ، عبدالخیراو ارباب محمد یعقوب چی پخوا له اسلامی امارت سره په مخالفت کی دغور په ولایت
٤ مخ

دبنگله دیش په انتخاباتو کی
خوتنه ووژل شول

داکه :
دبنگله دیش په پارلمانی انتخاباتو کی ددولت مخالف څواکونه دیوه ستربریالیتوب په ترلاسه کولو بریالی شویدی .
دیولو ترلاسه شویو رایو دشمیرنو دنتیجو له مخی دبنگله دیش دپخوانی صدراعظمی خالد ی ضیا په مشری دبنی لاسی
٤ مخ

استرداد یک اثرنقاشی در برابر صلح فلسطینی هاواسرائیل

ازمنابع خبری جهان:
پولیس امریکا اعلام کرد که یکدسته از سازمان سیاسی برای استرداد یك اثر نقاشی گرانبها که چندی پیش ا زموزیم یهودان شهر نیویارك یك باج بسیار
ص٤

تلاش میانجیگرانه در شرق میانه ادامه دارد

دمشق:
اوسکافیشروزیر خارجه المان به تلاش های میانجگرانه خود درشرقمیانه ادامه میدهد.
وزیر خارجه المان که دیروز در دمشق بسر میبرد قراراست با فاروق الشرع وزیر خارجه وبعداباېشار اسد رئیس جمهور سوریه دیدار وگفتگو نماید .
قرارگزارشها در محراق مذکرات مذکور مبارزه با تروریزم واوضاع شرق میانه قرار خواهد داشت.

پرکیدونکي خبري ۳مخ

گیرهارد شرایدر
داروپا دامنیت مساله له روسیی سره له همکاری پرته ناشونی ده

لند ن باختر:
دالمان صدارعظم گیرهارد شرایدروویل داروپا دامنیت مساله له روسیی سره له همکاری پرته ناشونی ده .
دالمان صدراعظم دانگلستان دکارگر گوند په
٤ مخ

سرمقاله

دلوی او ښیونکی خدا«ج» په نامه

ظاهر شاه ته چادایتالیا ژوند ناآرامه کړی ؟!

هیوادته دیولو بدمرغیو راتلل دثور دکرغیړنی کودتارا منځته کیدل او اساسی عامل یی دداخلی کمونستانو موجودیت ؤ خو داچی ددغو کمونستانو درامنځ ته کیدواووده ورکو لو اصلی عامل بیا څوک ؤهم دتفکر او غور وړخبرده . مسلمان ولس چی دخپل دین ،خپلواکی او له هیواده دکمونستی عقیدی وېستلو اوورک کولوپاره په وسلوال جهاد لاس پوری کړکړاوونه یی ولیدل مصیبتونه یی وزغمل په ملیونونو شهیدان شول په لکهاوو معیوب شول.
داهی تصادفی او دشرایطو رامنځ ته کیدل نه وواونه هم دکوم
۲مخ

یهودو دفلسطین په مظاهروکی ۱۱ تنه ټپیان کړل

بیروت :
دفلسطین نیول شوی ځمکی پرون داسرائیلو برغلگرو دخپونکو اقداماتو پرخلاف داعتراض په توگه دمظاهرو او اعتراضونو دگړو .
په ١٩٤٨ میلادی کال کی په نیول شویو ځمکو
٤ مخ

بیش از دوملیون زندانی درامریکا

ازمنابع خبری جهان:
امریکا در اواخر سال دوهزارریکاد افراد زندانی را بابیش از دوملیون نفر شکست.
ص٤

عکس: یک طیاره هلیکوپتر توپ دار اسرائیل در عملیات مناطق اشغالی

راځه چی داهم واورو

۲ مخ

امریکا در صدد بی ثباتی آسیا

که له اسلام پرته موږه بل څه کي عزت ولید خداي «ج» بهموږ یر سخت ذلیله کړي (ابو بکر صدیق (رض))

شــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هــ ش

:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مــرستیال: مـلامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی گڼی بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (٤۷۱)کابل افغانستان

جاری حساب : ٤۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز

کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

مادي او صنعتي انقلاب پيښي وي ددي ترشالوروهدفونو مقدسو ارادواو پاکوارمانونو ځای درلود چي په سرکی یی بوربښتونی اسلامی نظام او دهیواد بشپړه خپلواکی وه.

اوس چي په بهرکی بیا دهغه چاپه سرواله وهمی اوخیالی پاچاهی جوړیږی کوم چي دهغه دلاس دنیالگیو خلق او پرچم له لاسه هیوادوال تراوســـه هم په کــــرارنه دی او دده تروزرو لاندی بی په ښکاره ددین سپکاوی کاوه په دغه مجاهد ولس به دغسی پاچاهان څنگه ومنل شی او په کوم ډول به په دغی غیرتی خاوره دغه خیالی پاچاهی حقیقت ته ورسیږی له دی نه هیڅ انکار نه شی کیدی چي دهیواد په هرسیاسی بحران کی دمجاهد له خوښی او ارادی پرته دبل چاغیـــزیات وی همداحقیقت دی چي دافغانستان اسلامی امارت دهیواد په هرکنج او هره لویشت خاوره تام تسلط لری.

څکه نو دامریکا پانو په متیو ظاهرشاه بیا راتگ ته هیڅ بوه داسی لاره نه لیدل کیږی چي په هغې کی دی کوم خندواقع نه شی او تو لواک غیر مسئول دی بیا په حرم سرای کی دغفلت په خوبو سرشی له دی پرته چي په دی اقدام سره به نه جبرانیدونکی ستونزی رامنځ ته شی او هغه ته ورپاتی حیثیت به نورهم له منځه لاړشی هغه چي همدااوس یی دجگړه ماری او جنایتکاری ولگی سره په یو کیدو هیڅ هم ځان ته نه دی پریښی.

دظاهرشاه ددغو هلو ځلو په پیلیدو سره هرچا دخپلی کرکی غبرگون ښودلی او حتی جهادی رهبرانو هم په خپل واروسره دغه بوه بی ځایه هڅه اونه ترسره کیدونکی امر بللی جهادی رهبر مولوی محمد نبی محمدی داکارناشونی او دمجاهد ملت په کړاوکی داچولو بوه بله دسیسه وبلله او ښاغلی حکمتیار په دی لاره کی دجهاد تیاری وښود پیرسید احمد گیلانی دظاهر شاه اوسنی هڅی دغلطو مقاصدو د ترسره کیدو لپاره د نوروهڅی وبللی اوجهادی شخصیت جناب حضرت صاحب هم خپله نارضایتی وښوده او ددغو هڅوهویت یی په ډاگه کړ دادی استاد ربانی هم په دی هکله خپل غبرگون وښود او هیڅکله دیته حاضر نه دی چي دپخوانی پاچاظاهرشاه واکمنی ومنی.

داټول ددی حقیقت څرگندوی دی چي په هیواد کی بهرنی مداخلی ته که په هرنامه وی هیڅوک نه حاضر بری له دی پرته چي ددغو هلو ځلو عاملین به په خپل ژوند کی یو وار بیا دشاه شجاع تاریخ تکرار کړی.

څکه دی نو ظاهرشاه دغه حساسیت درک کړی او نه دی پریږدی چي دده په پرتله ددوله سیمبــولــه نوره بری گڼتی ترلاسه کړی

راځه چې داهم واورو

ملاحبيب الله «احمدزی»

اوس خو به هر مجاهد افغان پدی شرمیږی چه دپرون جهادی رهبر بی نن دهغې جبهی لوډسپیکر دی چي په سرکی ئی جنرال فهیم اوورپسی دعقیدی او کارنامو په تناسب بابه جان ، عظیمی ، دلاور او نور ... قرارلری.

ډېره ښه شوه چي حالاتود هرچاله مخ او هرڅه نه پرده پورته کړه او پټی څیری راته ښکاره شوی او ډیرو خلکو چي په مخونی تورپوستکی کش کړی و اصلی څیری بربنډی شوی.

داسلسله خو هغه مهال پیل شوه چي کله دنجیب رژیم نسکور کړای شو او مجاهدین کابل ته ننوتل ربښتیا هم چي هغه مهال ددوی دآزمایښت لړی شــبی وی دوی دیوی واحدی اداری په جوړیدو کی پاتی راغلل او هغه څه نی وکړل چي خدای «ج» اودی ملت ولیدل او لیکوال بی په لیکلو شرمیږی ډېر فکری دښمنان سره یوځای او دوستان شول هغه ددوستم که بوه ملیشه په کابل کی وای دانجنیر صاحب به وسله په څمکه نه وای ایښی بله ورځ مودا انجنیر صاحب له خولی د«دوستم په نامه اورید لواو دکابل دائتلافی اداری په ضدئی د«هماهنگی» په نوم شوری ورسره جوړه او اوږه په اوږه سره ودریدل.

انجنیر صیب ته ډېره موده دځلورو ژرند و آسیابانی وریه غاړه وه

او هیوادوالو ککړي او دکابل ډېره حصه ئي دژرندو تر پلونو لاندي او ړه اوړه کړه .

ښه مي په یاددي داستاد رباني دواکداري او ایل ۱ دجلوزوپه کمپ کي استاد سیاف په خپل جامع مسجد کي دخپل اوږده تقریر په اوږدوکي انجنیر صیب په آیت او حدیث داسي له اسلامه وایست چي هیڅانه سوال نه وو پاتي بوحدیث نبوي چي استاد دانجنیر په کفر کي ووایه هغه داؤ : ترجمه خود یو وخت نه څوک چي له یو ظالم سره روان شو ترڅو هغه تقویه کړي فیو هیدو چي هغه ظالم دي نوبي شکه چي له اسلامه ووت)

داستاد بیانبه زمووږ په غوروکي وه چي کله انجنیر صیب دیوه کاروان په بدرگه کابل ته راغي همــاغه استاديي دهرکلي لپاره مخي ته ورغي.

کله چي په کال ۱۳۷۳ هـ ش کي دمظلوم ملت دعاگانې او دشهیدانو ارمانو نه لوي خداي «ج» دطالب په شکل راپورته کړل او لږ وخت وروسته دغه سپیڅلي طالب میدان ښارته راورسید دپروفیسرانو غوږ دریځ نه ؤمعلوم چي آیا وسله ږي او که جنگ کوي خو کله چي جوته شوه چي جنگ کوي داتحاد اسلامي داجرائوي شوري یو اهم رکن دي چي دلته ئي نوم نه اخلم د«بر حق بین» او استاد سیاف ته نږدي سړي دي موږ بي ډېر ښه پیژنو موږي هغه مهال په کابل کي و حق بین صیب داسي وبل : کله چي احمد شاه مسعود په میدان ښارکي دطالبانو دنظامي قوماندان شهيد ملا مشر آخوند سره دخبرونه وروسته بېرته کابل ته راستون شو دوخت ... او داخوانیت لوی علمبردار دوضعی نزاکت اوحساسیت درک کړاو فوراً یې دخپل عقیدوي مسوولیت له مخي مسعود او ټولو قوماندانانو ته زما په حضور کي داسي فتوي ورکړه : زه تاسي ته دیوه فقیه او محدث په صفت دافتوی درکوم چي دطالبانو مرگ داسي روادی لکه دلیونو ..... العیاذبالله حالانکه چي یوځه وخت مخکي دیو چا په فاتحه کی استاذ دخپل تقریر په اوږدو کی داسی ویلی و : ماتراوسه پوری په مسلمانانو نه ډزکړی او نه می دډزو فرمانونه ورکړیدي او نه به ئي ورکړم «حق بین» زیاتوی : ماچي کله داستاد خبري واوریدی ډیر پریشانه شوم هیڅ می زړه نه لوېدله څوشیبی می ځان ته دوکه ورکوله بالاخره پدی هڅه کی شوم چي له استاد سره یوازی کښینم او یو څوخبری ورسره وکړم بالاخره زه او استاد سره یوازی شو او ماورته په تنده لهجه خپلی خبری پیل کړی الله تعالی په ځان شاهد گرځوم چي دروغ نه وایم وایي ماورته وویل : استاذه هغه تاسه چي ویل زه په افغانستان کی داسی نظام غواړم چي سل په سلو کی شرعي وي او الهي حدود پکی قائم وي او که بوڅوک دیوداسی نظام راو ستونکی وي زه به ورته په ډېره خوښی وسله کیږدم او دیو سپاهي په حیث به ورسره ملگری شم داد طالبانو تحریک هماغه تحریک دي لکه څنگه چي تاغوښت اوس نه یوازي چي وسله ورته نه ږدي بلکي په ضد یي جگړه روابولي وه استاده ؟!!

داخــــوانیت فکري مرشد پروفیسور سیاف داسي وویل ..... صیب ښه پیرم (پوهیږم) طالبان دهمدي ملک خلک دي او بل هیڅ مرام نلري بي لدي چي شرعي نظام راولي او داگید ي له منځه یوسي خو فقط او فقط ددي پخاطر ئي مقابله کوم چي اخوانیت له منځه ځي او له صحنې وځي.

وائي ماورته وویل : استاده که اخوا نیت عبارت له اسلامه وي او بنسټ ئي خاص اوخاص په اسلام دی (بنسټ ودي) اگراو دامیدان او که اخوانیت بل شی وي خداي «ج» دي اوس له صحنې وباسي خداي «ج» دي داسي ئې بست او نابود کړي چي بیا ئي څوک نوم هم وانخلي.

چالاکه اخواني رهبر زما ددي خبري په ځواب کی سترگي ښکته واچولي اوزه تري راجگ شوم او راغلم سیاف صیب په ډکه خوله ملت ته داخوانیت څهره وروپیژندلي او دادي لگیادي په عملي توگه ئي هم وروپیژني.

رباني صیب په واروارسره چیغي وهي هلي زرکوي راځي چي موږ درسره همکاري وکړو خو څوک ئي غږ نه اوري بوي او بلي خوا ته پلاوي استوي.

له بلي خوا روسي اعلام کړي چي موږ په افغانستان باندي په حمله کي دامریکي سره هغه وخت مرستي ته تیاریو چي موږ ته ډاډ راکړل شي چي د طالبانو له زوال نه وروسته دقدرت واگي متحدي جبهي ته وسپارل شي له بلي خوا دپخواني عبا ش پاچا دبیا مطرح کیدلو آوازي گرمی شویدی هغه پاچاچي استاذانو یه ډیر افراط له وجهی فاسق مسلمان نه بلکی کافر بللواوس ټول ملت خصوصاً داستاذ ېږ دی کسان پدی انتظار دی چي «سیاف «صیب څه کوی کوم دریځ به خپلوی پدی وروستیو کی دمتحدی جبهي یو پلاوی هم روم ته تللی اومتحدی جبهی اعلان کړی چي دظاهرشاه ملاتړ به وکړی.

په داسی حال کی چي دهغه په دوره کی بی دهغه په ضد ښکاره مبارزه کوله اوس په دی ملاتړ خپله هماغه مبارزه هم لکه کړی تیر جهاد باطلوی لدی ټولو سره سره توروزن «سیاف» خپله توره لا په څمکه نده ایښی په پښتو کی یو متل دی وائی : «وریښداری خواره دی غواړم نه دوروله مرگه » دمتحدی جبهی مشران دپخوانی امریکائی ولس مشر دمیرمنی له خبرو نه هم ونه شرمیدل په ځای ددي چي دوی رسمي اعلان کړای وای چي که موږ او طالبان هر ډول شدید اختلافات لرود اټول به شاته کړو او اوږه په اوږه به داسلام او کفر پدی احتمالی جگړه کی ودریږو او له خپل دین او وطن نه به دفاع وکړو سیاف صاحب داسی وائی : مجاهدین دااووه کاله کیږی له تروریستانو سره په جگړه کی بوخت دی سیاف صاحب دځناځیوا او شمشاد له سمڅوهم ونه شرمیدلو او زیاته ئی کړه : مجاهدین پوهیږی چي څنگه ددوی سنگرونه وروران کاندی نو امریکا دی له موږ سره په تماس کی شی او موږ دی تقویه کاندی ***چي نوموړی دروسانو په مقابل کی چي واقعاً دکفر او اسلام جگړه وه خپل زوی او وراره ته توپک په لاس کی ورنکړ او اوس داسلامی نظام په وړاندی دخپلو غرضونو او نوروته دچوپړ په جگړه کی توروزن «سیاف» له خپل نازولی زوی «ستار» او وراره «ممتاز» سره دجهاد داهدافو دساتنی په سنگرکی پروت دی.

ملت هرڅه ولیدل او وینی ئی ... خوزموږ وروستی هیله داده لکه څنگه چي دتاریخ په اوږدوکی دعلماوو سپیڅلی قشر دین پالی او وطن پالی کارنامی ترسره کړی او په هر وخت کی له هر قسمه آزمایښت نه بریالی راوتلی او خپل مومن ملت ته تراوسه پوری په هسکو سترگو گوری لوی الله «ج» دی وکړی چي لدی ستر آزمایښت نه هم بریالی راووزی او داروان سیاسی بحران هم زموږ په کامیابی او سرلوړی پای ته ورسیږی او دمتحدي جبهي بل مشر استاد رباني پدي خبره چي : موږ له امریکا سره دطالبانو او تروریستانو په ضد هر قسمه مرستي ته تیاریو خپله وطن پالي څهره هیوادوالو ته څرگندوي سیاف صاحب خو به خپلو هیوادوالو ته داختر مبارکي په پیغام کي ویل چي الله تعالي په ځان شاهدگرځوم سنگر کي چي پروت یم دجهاد داهدافو دساتني سنگردي او زه دجهاد په دوره تیمم وهم خو پردي کوزري ته لاس نه غځوم.

دنوموړي داخبره چي دجهاد د اهدافو دساتني په سنگرکي پروت یم تر ډېره حده ربښتیا کیدلای شي څکه چي دحق بین صاحب خبري موږ او ریدي ښایي دابه داخوانیت ددفاع جهاد وي او دوي به ورته روااو فرض جهاد وائي او دجهاد له پهله به ئي هدف همداو.

اماداستاد داخبره چي پردي کوزري ته لاس نه غځوم ډېره ښه ورله غاړي شوه اوس نه یوازي چي روسي کوزري ته لاس غځوي او له خپل مخ څخه دجهاد دوړي پدي مینځي بلکي خپل مجاهد سره داخل کي دسرسخته کمو نستانو باباجان ، عظیمي ، دلاور او په خارج کي ئي دکریملین دواکدارانو په پښو کي ږدي.

امریکا در صدد بی ثباتی آسیا

حمیده

امـــریکا منحیث کشور اوج سرمایه دار «امپریالیستی» فقط متکی به منافع شرکت ها و مونو پول های خود در سطح جهان است این کشور سعی دارد تا تمام منابع طبیعی و نیروی بشری ارزان قیمت را به خود اختصاص دهد.

امـــریکا درتحقق اهداف خود مکلف به رعایت قوانین جهان وملل متحد نمی باشد برعکس مطابق به منافع خـود امـریکا فیصله هاو قطعنامه های ملل متحد را تنظیم و ویتـو می کند . درزمینه تلاش امریکا و سازمان جاسوسی C I A آن درکشور های عقب مانده اما سرشار از منابع غنی و باارزش طبیعی وهم نیروی بااستعداد وارزان قیمت بشری میباشد وبه هرطریق ممکنه پایگاهای نظامي اش درکشورهای عقب مانده به خصوص آن کشورهای که داراي احساس استقلالیت و ترقی دارند توسعه دهد بعداً شرکت های انحصاری امریکا غرض تولید انتقال و استفاده از منابع طبیعی وافراد با استعداد و خبره این کشور ها در دستگاه های تحقیقاتی وپژوهشی اش استفاده نموده ورشد اقتصاد ، اجتماعی خویش را درسطح جهان گسترده ترسازد تاراج منابع طبیعی ونیروی بشری به شکل جدید آن که امروز به نام استعمار نویاد می شود باشیوه دیگر روی کار می آید این شیوه تحریم کشور های عقب مانده بهانه جوی علیه کشور های ازادی خواه استحکام حکومت دست نشانده خویش درآن کشور ها وبالاخره اقدامات مسلحانه ومداخله نظامی می باشد.

استعمارنو، به جای فرهنگ اصیل فرهنگ فاسد و انحرافی را جانشین می سازد ومطابق قانون انا رشیزم امریکا سایرملل در دام افتاده را مجبورمی سازد تاطبق فرهنگ امریکائی باندهاي مسلح ، ظلم وستم، عیاشی ترویج فساد اخلاقی وسایرپدیده های منفی را بالای کشور های مظلوم به خصوص عالم اسلام تحمیل کنند تا از یك طرف حس آزادی خــــواهی و داشتن استقلالیت فکر ی ومعنویشان به نفع امریکا جذب شود واز جانب دیگرملل مستضعف به خصوص جهان اسلام در بی ایمانی وگمراهی غرق فسق و فساد تحت عنوان «دموکراسی» شوند.

تلاش های کنونی امریکا ازجمله همین اهداف شوم می باشد، تقویه سازمان بدنام موساد صهیونیزم بین المللی ، حمله بر کشورهای عراق و لیبا ، مقابله باچین از طریق تایوان ،حمایت نظامی از اسرائیل اشغالگر ،حمایت از سازمان تروریستي خلق علیه رژیم ایران تحریم وبالاخره حمله نظامی علیه حکومت قانونی ومشروع اسلامي وجنگ دید ، افغانستان وصدها عمل جنایتکاردر بین کشورهای اسیاي میانه ، هندو پاکستان بیانگرمدعای ماست.

امریکا باوجودانزواي بین المللی وتنفرعالم اسلام اکنون سعی دارد تا قلب اسیا را به اشغال خود درآورد و به این منظور اسامه بن لادن را فقط یك بهانه به خود می تراشد وبس.

حکومت امریکاحیثیت منا فق رادارد از داخل هم بامشکلات مواجه می باشد F P ، C I A و I در تضاد کامل قرارگرفتند کنگره ومردم امریکا هم در تضاد فکر ی اند و بالاخره بوش که از ناتوهم حمایت کافی نگرفته ودرجهان اصلاً محبوبیتي ندارد درمعرض خطر استعفا قرار گرفته است.

بوش طبق پالیسی خصمانه امریکا قطعنامه به ملل متحدداد تاآنراتصویب کند ، دراین قطعنامه مجهول درمورد کشور هاي حامي تروریزم تحریم وضع میشود ، هدف مشخصي است هرگاه کشوری حس آزادی خواهی داشته باشد فوراًتاپه بی تروریزم بدون دانستن اصل مفهوم تروریزم به آن کشور حواله وحکومت اش را سرنگون می کند تادیگردرجهان تحریك ها وجنبش های آزاد ی خواه وترقی پسند به خصوص درآسیاسربلند نکند و اسلام که تمدن را به غرب واز آنجابه امریکا رساند به بی تمدني سوق داده شود .

جنگ علیه مسلمانان وافغانان ازهمینجانشئات می کند که حالا سروصدای تدارك حملات نظامی احتمالی امریکا را از طریق امواج رادیوها می شنویم ودرفرصت امریکا به ملل متحددستور می دهدتا مردم داخل کشور را فراموش و ایشان رابه کمپ های کویټه ،پشاور ایران ، ترکمنستان ، ازبکستان ودیگر محلات دلخواه امریکا فراخواند ، شود این اقدام سبب می شود تا:

۱- جوانان درکمپ ها به آساني به جبهه ضدمیهني واسلامی سوق داده شوند

۲- از مهاجرین به حیث گروگان استفاده شود .

۳-اهل خبره غرض استفاده به مراکز اکادمیکی خویش به حیث نیروی ارزان و کم خرج استفاده و انتقال دهندو این کشور از دانشمندان خالي شود.

٤- بی نظمی درکشور به وجود آیدومردم فضائی صلح امیزوآبادی را نداشته باشند.

۵- فاسد ساختن فامیل ها درداخل کمپ ها واستخدام جواسیس

٦- ترویج روش گدایي در بین افغانان.

۷- ترویج فرهنگ وادیان دیگر.

۸- بی نظم ساختن کشور میزبان

۹- وده ها اقدام دیگر که قبلاً از طرف C I A طرح شده است به راه اندازد به همه افغانان در این لحظه حساس تاریخی لازم است تا شعورخود را حفظ کنند و با امریکا ونوکران آن مبارزه بی امان و باا یمان نموده و جگرگوشه های شان درآغوش پرمهر وطن زندگی با عزت و شرف نمایند و اگر امریکا به هرحیله ونیرنگی که بخواهد اوضاع آسیا را مختل ساز د از آن به نفع خود بهره برداری نماید در نطفه خنثی وبا نعره الله اکبر در حفظ استقلال داخلی وخارجی کوشر تان کشور باشید ، خداوند «ج» حافظ و نگهدار مسلمانان باایمان می باشد .

اسلامی معارف

چلوونکی: سلیمان

له جهل نه دعلم او هدایت په لور

طـه

څېني خلک خو داسي وي چي په هرڅه کي صرف خپل مصالح لټوي او ډېر کم هم داسي فکر نه کوي چي زه بايد داسي کاروکړم چي هم دخپل ځان مصالح په لاس راوړم اوودي ترڅنګ دخلکو دمصالحو دترلاسه کولو له پاره هم دامکان په صورت کي اودخپل توان موافق داسي هڅه وکړم لکه څرنګه چي دخپلو مصالحو په لور شپه اوورځ سرګردانه اوسم ځکه که چېري زموږ دماحول او سېدونکي آرامه ژوند ولري او په یوه صفا اخلاقي، تعلیمي، علمي او اقتصادي، روحي سکون کي هستوګنه ولري او دخپلو مصالحو په خوندي پاتي کېدلو مطمئن اوسي، په دي صورت کي خپله موږ هم چي دهمدغو ټولني جزیو، په امن کي اوسېږو او واقعاً دامن سکون او اعتماد احساس راته پیداکېږي او داداخلاص اوصفا فضا داسي ټولنه رامنځته کوي چي دټولني ټول غیرقانوني اړخونه هم جبراً دقانوني کېدلو په لور راکاږي او دقانون خلاف کار اصلاً دخلکو طبیعت سره اړخ نه لګوي او کرکه ورځني کوي.

څه فکر کوي داسي یوه ټولنه په آساني سره جوړېږي او دڅوروڅو اوڅوکلو نو خبره ده ؟

نه ،نه داسي نه ده داسي څه په موقتي او مقطعي هڅونه ترلاسه کېږي زحمت غواړي، کارغواړي او دزیات وخت ضرورت او مواظبت غواړي ترڅود ټولني اذهان داسي عبارشي چي قناعت ئي حاصل شي او دهغوي پرازهانو باندي دجهل اوغیراسلامي انګېرنو ګرد او غبار پر یو لل شي او داکار دشفقت او زړه سواندي پرروحیه ترسره شي او هم دستړیااحساس ونه شي.

انبیا علیهم السلام ټول دهمدي لاري لاروبان دي اوپه دي لاره کي ئي زیات زحمتونه ګاللي دي. داسي چي په بشري تاریخ کي چاهم ددوي په شان زحمتونه نه دي ګاللي او چاهم پربشریت هسي شان زړه سوي او شفقت نه دي کړي.

په یوه جمله کي به وواېو چي انبیا «ع» دبشریت رښتېني معلمان و چي دبشري ژوند انه ټول ضرورتونه ئي خلکو ته ورښودل او داکارئي دپوره پوره علم او آګاهي په چوکاټ کي کاوه اودوخت اومکان ټول مهم فاکتونه ئي په نظرکي لرل اوو رسره موافق ئي دبشریت روزنه کوله. له جهل نه دنور په لور، له خرافاتو نه دواقعیت پرلور له او هامونه دحقایقو په لور له ظلم نه دعدل په لور، له خیانت نه داخلاص په لور له بداخلاقیونه دعالي الهي اخلاقو او کرامتونو په لور، په دغه عالي مکتب او مدرسه کي ئي داسي کسان روزل چي دنن دساینس تکنولوژی، کمپیوتر او دروان پوهنی پرمختللی دنیائی هم هک پک حیرانه کړیده.

> دانبیاووعلیهم السلام دعوت په حقیقت کی یو تیوریک، علمی، فرهنگی، سیاسی، اقتصادی، تجاری، تربیوی او دپوهنی غورځنگ و چی په پوره اخلاص ترسره شوی دی اوهرڅوک که رښتیا دبشریت دخواخوږی څه فکر لری نو له همدی لاری دی ولاړشی، بلاشک چی منزل ته رسیږی او داځکه چی دانبیا «ع» ژوندی تاریخ او دهغوی ددعوت کارنامی زموږ ترسترګولاندی پرتی دی.

هغوی دخلکو دهدایت په لاره کی داسی سرګردانه و چی شپه اوورځ ئی په ځان یوه کړی وه. هر څه ئی منل خودجهل پروراندی ئی دسکوت دمنلو توان نه درلود ځکه جهل دټولو بلاوو مورده په هره ټولنه کی چی علم نه وی اوجهل خپل تغر غوړولی وی، وګوری له څه مصیبتونو سره لاس او ګریوان دی.

یو مصیبت لاختم نه وی چی بل مصیبت پسی ګوزاروکړی او ټول عمرئی دغمونو په باران کی تیریږی.

له سهل ابن سعد «رض» نه نقل دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علی کرم الله وجهه ته وفرمایل: «په خدای قسم! که چیری ستاپه واسطه خدای پاک یو څوک له بدی لاری دحق طرف ته هدایت کړی، دابه درته دسرواوښانوله کاروانو نو هم بهتره وی.» بخاری اومسلم «رح»

وګوری رسول اکرم «ص» غواړی له حضرت علی «رض» یومعلم جوړکړی چی په جهل او نادانی کی ګیراو ښکیلی پرګنی پری دنجات لاره بیامومی دجهل تغرټول شی اوخلک دشعور په لور مخه کړی له بی ځایه انګیرنو او لړلیو افکارونه دهدایت او رڼا په لور حرکت وکړی. دتبعیض او تعصب پرځای اتفاق او وروری ونیسی.

داکار له علم او دټولنی له حقیقی شناخت پرته نه کیدونکی دی او یوازی علم او آګاهی ددی کار جنډه پورته کولای شی او داسلام څلورم خلیفه حضرت علی «ک» واقعاً چی ددی دترسره کولو له پاره ښه جوګه و که څه هم دحدیث شریف حکم عام دی او ټول پردغه کار مکلف یو خو دکار دانجام له پاره دیوه مسئول او باصلاحیته صالح کس تاکل هم په خپل وار دخاص اهمیت وړدی، ځکه چی دخلکو استعدادونه سره فرق لری.

داسلام دروزنپال غورځنګ په لور.

پرکیدونکي څیري

دحضرت ابودردا «رض» وبناده چي نبي صلي الله علیه وسلم فرمايلي دي:

«دقیامت په ورځ به یو شمیر خلک له خپلو قبرونو راځي او څېرې به ئي نوراني ځلېږي، هغوي به دمرغلرو ممبرو نوکښېنول شي خلک به دهغوي په داسي شان درجواوپرتم رخه کوي (چي کاشکي داسي شان عزت زموږ هم نصیب شي) دا نوراني ځلېدونکي به نه نبیان وي او نه هم شهیدان!

پردغه مهال یوه اطرافي سړي پوښتنه وکړه: یا رسول الله! داکوم خلک دي؟ موږ ته یې راوپېژني رسول اکرم (ص) ورته وفرمایل: «داهغه خلک دي چي په وګړنېزو چاروکي دخداي «ج».. له پاره یو تر بله محبت کوي. «طبراني»

مرغلري

۱- دهوښیار سړی ژبه په زړه کی او دبی عقل زړه په ژبه کی وی.

۲- پرلوڅه شاله غره نه ډېری راوړه خو چاته دسوال لاس مه اوږدوه ۳.-ډېر بی ګتی کسان هغه دی چی ځانته وروڼه نه شی موندلای او تر دی زیات بی ګتی هغه دی چی موندلی وروڼه تری پردی شی.

٤-ډېرښه زهد دزهد پټ ساتل دی.

٥- هغه ګناه چی ته په زړه کی ورنه ویریږی، ترهغی نیکی دخدای په نزد ښه ده چی په تاکی لوبی او ویاړپیداکوی.

٦-دلړشی په ورکړه مه شرمیږه ځکه چی ناامیدول ترهغه هم بد دی.

۷- له ووی سخی او ماړه موذی څخه ووېرېږی.

۸- صبر دوه ډوله دی یو پرهغه شی چی تاسی بد ګڼی وری او بل له هغه چی ورته هوسیږی.

۹-څوک چی په خلکو پسی بد وائي، خلک په هغه پسی هغه څه وائی چی دی پخپله پری خبرنه وی.

۱۰- چاته چی دروزګار مخ شی، دنورو ښېګڼی هم دهغه په نامه تماميږی او چاته ئی چی شاشی، خپلی ښېګڼی ئی هم دنورو په نامه کیږی.

دتاریخ پړاو

احمد فرید «لامع»

دنړی توراپړته ګوره چه آسیا ته په شیاشو
آزادی ئی سمبول کړی، اوس نړی ته په سوداشو
«یوش» به نه وی اوریدلی د«برایهن» او«سیل» خبری
ځکه اوس دتیرتنیان ئی پرتوکم دآریا شو
پدی خاوره کی توی شوی دچنګیز اوانګریزوینی
سرباللی مکنائین دی، پری برباده وسیراشو
داهغه میرنی ملک دی پرتاریخ ئی نظرو کړه
احمد شاه ئی دی روزلی «اکبرخان پکی پیداشو
روسیی هم ځان آزمویلی دتاریخ په یو پړاوکی
درته وائی اوس پخپله چی آګاه پرخپل خطاشو
پرنګی چی ستا تریوردی، دخیبر اخطارئی درکړ
کرملین چی دی لیدلی په نصیحت درته ګویاشو
کمونیزم دلته بیخ شو، دمسکو بیرغ بدل
دبرلین دیوال ئی رنګ کړنوم ئی پورته پردنیاشو
بهوه بت نصرانیت واړه داسلام لوی دښمان دی
فلسطین ئی ټوله لوټ کړ، راچاپیریوسنباشو
مرستندوبه دافغان شو «انسانیت» بی پرخوله روي
په پلمه دمرستی وروسته، مبلغ دمسیحاشو
دافغان تکیه پرخدای «ج» ده پروانلری که څه هم
دنړی منافق هریو نړ.. دی دوست دامریکا شو
داسلام څراغ به دلته ترقیامت پوری «لامع» وی
که هرڅو دنړی لوی ځواک دښمنی ته ئی یوځاشو

مجنونا!

میرویس «فضلی»

ای مجنون آواره بیا به عشق مولا
هرگزبیادنیایدت دگر عشق لیلا
دلداده مشتاق شده ئی به ژون زاهق
خودفانی حق کن، تا بینی عالم بالا
مباش چون غافل وکاهل وجاهل
کشت آخرت را بهترین وقت بود حالا
گر مقام والا خواهی آن درتواضع است
گر متکبر شدی خویش فگندی دربلا
آخرت آخرت است مکن غفلت «فضلیا»
چنگ زن به ذکر رحمن نیکعرش متلا لا

اعلانات

وزارت اطلاعات وکلتور تعداد پنجصد و هشتاد وشش قلم اجناس و لوازم داغمه جات مازاد ضرورت خویش را لیلام مینماید.

اشخاص وموسساتیکه خواهش خریداری آنراداشته باشنددرخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعات وکلتور بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت زراعت ومالداری موازی یکصدو سی وهفت ونیم جریب زمین فارم تپه پغمان وموازی سیزده جریب زمین فارم قوریه پغمان را برای مدت یکسال به اجاره میدهد.

اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست های خویشرا به امریت خدمات وزارت زراعت بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۷ تاده روز مراجعه نمایند. شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانندتضمین اخذ میگردد.

***

وزارت امربالمعروف ونهی عن المنکرمقدارهشتاد هزارو هشتصد و هشتاد ودوکیلوچوب بلوط خشك بدون پوست سرشاخ هفت کیلو مبلغ بیست هزار افغانی ومقدار پنجهزارپنجصدکیلو چوب ارچه خشك را فی هفت کیلو مبلغ هجده هزارو یکصد افغانی بامحمد نواب فرزند حیات خان قرارداد میگناید.

مناقصه کننده گان درخواست های خویش را به آمریت خدمات وزارت امربالمعروف ونهی عن المنکر بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۶ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

حاجی حسین فرزند ابو الحسن موازی شش جریب زمین زراعتی مدرسه ابن سینا واقع کارته چهار را سالانه به مقدار شصت وشش سیر گندم برای مدت سه سال قراردادمینماید.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت معارف بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۶ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده وبتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

محمد یعقوب فرزند حاجی شهسوار دوقطعه زمین زراعتی ملکیت دستگاه افغانی واقع هودخیل را فی جریب سالانه مبلغ پنجصدو پنجاه هزار افغانی وعلی محمد فرزند حاجی شیرین ،عبدالمجید فرزند عبدالقیوم یك قطعه زمین زراعتی ملکیت دستگاه افغانی واقع خوشحال مینه را فی جریب مبلغ ششصدهزار افغانی برای مدت دوسال به اجاره میگیرند.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا به آمریت تهیه و تدارکات دستگاه افغانی بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۵ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت آب وبرق یکعراده موتر سراچه مودل ۱۹۹۳ را به مبلغ دوصد وچهل ملیون افغانی از بازار نرخ گرفته است.

مناقصه کننده گان درخواست های خوش را به مدیریت خدمات ریاست اداری وزارت آب وبرق واقع بادام باغ بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۵ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت معادن و صنایع جهت ضرورت تصدی ذغال سنگ شمال به چوب های تحکیماتی ذیل ضرورت دارد.

چوب تحکیماتی نوع چناری طول پنج متره بامحیط چهل وپنج سانتی مترو بالاتراز آن بتعداد دوهزار اصله چوب تحکیماتی نوع چناری طول چهارمتره بامحیط ۴۵ سانتی مترو بالاتر از آن بتعداد دوهزاراصله چوب تحکیماتی نوع چناری طول دونیم متره مختلف النوع محیط ٤٥ سانتی مترو بالاتراز آن بتعداد ده هزاراصله چوب تحکیماتی نوع چناری مختلف النوع طول دومتره بامحیط ٤٥ سانتی مترو بالاترازآن بتعداد شش هزار اصله اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست های خویشرا بریاست تصدی ذغال سنگ شمال واقع پلخمری بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/ ۱۵ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده بتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

به اطلاع رحمة الله مسکونه کندهار میرساند تا غرض حل وفصل دعوی محمد امین فرزند حاجی کوخان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/ ۱۵ تادو ماه بریاست دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شود درغیرآن فیصله غیابی بالایش صادر و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت.

***

پښتنی تجارتی بانك یك عراده موتر گاز ٦٦ خویشراکه دارای انجن ۱۱۹۹٤٦ وشاسی ۱۱۰٦۲۲ ونمبر پلیت ۱۱۱۲۹ می باشد بفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه خواهش خریداری آنراداشته باشند بتاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۰ بمدیریت اداری و خدمات پښتنی تجارتی بانك مراجعه نمایندشرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

موسسه اشیانه بلاك جنوبی کودکستان الفتح واقع مکروریان سوم وبلاك های ۱-۲ کودکستان خیرخانه راماهانه مبلغ چهارملیون افغانی برای مدت دوسال به کرایه میگیرد.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست کار وامور اجتماعی بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۲۵ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند.

داستخباراتو لوي ...

او په اداري برخـه کی ددغـه ریاست اداری مرستیال محترم نور الحق ثاقب معلومات وراندی کړل.

داستخباراتو محترم لو ی رئیس ددوی داجرااتو له څرنګوالی څخه خوښی څرګنده کړه او دچارو ولابته والی په باب یی هغوی ته لازمی لارښوونی

دکندهار او پکتیا ...

دېندارو اومیړنیو خلکو په ګډون په دغه ښار مبارکی خرقی ته مخامخ جوړه شوی وه دکندهار ولایت د بیلابیلو قومونو مشرانو، دکندهار دکسبګرو دمرکزي شورا رئیس محترم حاجی محمد ولی او ددغی شورا غړو خبري وکړي په دغه غونډه او مارشو کی چی دعلمای کرامو جهادي شخصیتونو او قوماندانانو او زموږ دزرګونو تنو میړنیو هیوادوالو په ګډون وشول ویناوالو دنړیوال استکبار پرخلاف زموږ داتل ملت تل پاتی حماسو او ویاړنو ته په اشاره یی سره دانګریزانو او دپخوانی شوروی په ګډون دزبرځواکو دشرمونکو ماتو یادونه وکړه. او په اوس وخت کی یی په افغانستان باندی د امریکا احتمالی برغلونه چی کومه توجیه نلري یو بشري ضد او اسلامی ضد عمل وباله او په افغانستان کی یې تپل شوی حکومتونه چی دافغانستان دخلکو اراده ورسره نه وی مردود وبلل. او دامریکادمتحده ایالاتو په مشری یی دکفری هیوادونو دناوړو او شیطانی پلانو نو په باره کی رڼا واچوله او وی ویل امریکا او شریکان یی نه غواړی چی زموږ په هیوادکی یو پیاوړی آزاد او اسلامی حکومت واکمن وی له دی امله دافغانستان اسلامی امارت چی دهیواد دخلکو دارادی رښتینی ممثل دی دهغوی دسترګو په اغزی بدل شویدی.

وروسته ددغی غونډی برخه والو پداسی حال کی چی دامریکا او ظاهر شاه پرضد شعارونه ورکول دالله اکبر په نارو سره په پراخ لاریون لاس پوری کړ او دبوش او ظاهر شاه مجسمي یی وسوزولی او دامریکا پرخلاف یی جهاد اعلام کړ.

دغه راز دپکتیا او دخوست ولایتونو دبیلابیلو قومونو مشرانو او استازو پرون دپکتیا ولایت دمرکز ګردیز په ښارکی دیوی پراخی غونډی په ترڅ کی په افغانستان باندی دامریکا احتمالی برغل په کلکه وغانده او دجهاد لپاره یی خپل بشپړ تیاری څرګندکړ او په افغانستان کی یی له بهر څخه صادرشوی او تپل شوی حکومتونه مردود وبلل.

په دی پراخه غونډه کی دریاست الوزرا، اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند داطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال دسرحدونو او قبایلو دچارو وزیر محترم مولوی جلال الدین حقانی، محترم الحاج محمدنعیم کوچی او ددغو ولایتو نو په زرګونو تنو مجاهدینو او خلکو ګډون کړی وه.

په دی پراخه غونډه کی دریاست الوزرا، محترم اداری مرستیال دیوی هراړخیزی وینا په ترڅ کی دتاریخ په اوږدو کی دهیواد دخپلو اکی ملی واکمنی او حاکمیت بشپړتیا ددفاع او ساتنی په خاطر دافغانستان دخلکو داتلوالو مبارزو او مجاهدت په باره کی او پړدی څرګندونی وکړی او دافغانستان دخلکو دجهاد په دوران کی یی دپکتیا، پکتیکا او دخوست دولایتونو دبیلابیلو قومونو دسرښیندنو او ځان تیریدنو درناوی وکړ.

وروسته قومی مشر محترم محمد نعیم کوچی جهادی قوماندان او قومی مشر محترم ملک محمد عیسی، محترم داکتر عبدالحکیم او محترم حاجی سیف الله داحمدزودقوم په نمایندګی په وارسره خبری وکړی او دافغانستان له اسلامی امارت او دهیواد دعلمای کرامو دشورا له وروستی فتوا سره یی خپل بشپړ ملاتړ څرګندکړ.

دغه راز ویناوالو دتیری کوونکو او برغلګرو پرخلاف دجهاد لپاره خپل تیاری څرګندکړ او دبهرنیانو لخوا جوړشوی او صادر شوی حکومتونه یی مردود وبلل.

په دی غونډه کی دافغانستان له اسلامی امارت او دهیواد دعلمای کرامو دشوراله وروستی فتوا سره دپکتیا، پکتیکا او دخوست دولایتونو دبیلابیلو قومونو دملاتړ په باب یو پریکړه لیک هم صادرشو.

تقبیح حملات ...

مسوولین امارتی وهزاران تن از هموطنان ما تدویر یافته بود سخنرانان با اشاره به افتخارت وحماسه ها جاوید انه ملت قهرمان ماعلیه استکبار جهانی شکست های افتضاح امیز وننگین ابرقدرت های همچون انگلیس، وشوروی سابق را برشمرده درحال حاضر حملات احتمالی امریکا را که عاری ازهرگونه توجیه میباشد یک عمل ضد بشری وضد اسلامی خوانده حکومت های تحمیلی در افغانستان را که برخورد اراز اراده مردم افغانستان نباشد مردود شمردند.

سخنرانان گفتند ملت قهرمان افغانستان در هر مرحله یی از تاریخ از ازمون زمان پیروز بدرآمده ودرمبارزه حق برباطل دشمنان اسلام ووطن را به شکست ونابودی روبرو ساخته اند که لله الحمد سردمداران قصر سفید نیز با این عمل خصمانه شان طعم تلخ شکست را نیز خواهند چشید.

این اجتماعات درریاست سرحدات وقبایل زون شمال، ولسوالیهای قرباغ، جاغوری واغزوناوی ولایت غزنی ولسوالی های نگه وگومل ولایت پکتیکا، ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا، ولسوالی های پشت کوه وقلعه کاه ولا یت فراه، ولسوالی های خواجه دوکوه، خماب وشبرغان ولایت جوزجان، ولایت لغمان، ولسوالی نوبهار ولایت زابل، ولسوالی قلعه ذال، ولسوالی ارگون و ولایت بغلان تدویر گردیده بود که دراین اجتماعات ٧٨٠٠ تن اشخاص مسلح آماده جهاد علیه امریکا گردیده اند.

په پاکستان کي ...

دامیر محترم مولانا فضل الرحمن او دزرګونو تنو علماء کرامو مجاهدینو او مهاجرینو په ګډون وشوی مظاهره کوونکو پداسی حال کی چی د امریکا، اسرائیلو، ظاهرشاه او دپرویز مشرف پرخلاف شعارونه ورکول دکویټی ښار له هوایی ډګر څخه دعالمو ترچوک پوری لاریون وکړ او په پوځی چونی کی یی یوه غونډه وکړه.

ددغی غونډی په ترڅ کی محترم ملافضل الرحمن دخبرو په ترڅ کی وویل که چیری امریکا په افغانستان باندی برغل وکړي موږ به دافغانستان ددفاع په خاطر له هیڅ راز قربانی څخه ډډه ونه کړو او له افغان مجاهدو ورونو سره او ږه په اوږه دامریکا پرخلاف جنګیږو او کله چی امریکا په افغانستان باندی برید وکړی له هماغه وخت څخه دامریکا پرخلاف جهاد اعلامو ودغو مظاهرو چی دپاکستان په تاریخ کی دبلوچستان په صوبه کی ساری نه درلود دسهار له اتو بجو څخه پیل او دماښګر تر څلور ویجو پوری یی دوام وکړ او په هغو کی څه دپاسه دوه سوه زرو تنو ګډون کړی ؤ.

خبریال زیاتوی په دغو مظاهروکی دمحترم مولانا فضل الرحمن دګډون دمخنیوی په خاطر دکویټی هوایی ډګر د ٤٨ ساعتو لپاره تړل شوی ؤچی وروسته دکویټی ښار سرکونه او هوایی ډګر دمظاهر کوونکو لخوا کلابند شو او دجمعیت العلمای اسلام امیر وکولی شول چی له هوایی ډګر څخه ووځی او دمظاهر کوونکو له لیکو سره یو ځای شی ښاغلی فضل الرحمن دپاکستان حکومت ته دافغانستان دحملی په صورت کی دپاکستان دخاوری په استعمالو سره ګواښونه هم وکړل.

دغه راز محترم مولانا فضل الرحمن په مشری دکراچی ښار دلسګونو زرو تنو او سیمونکو په ګډون مظاهري وشوی سپینی مانی دسره مدارانو او په افغانستان باندی دبرغل دطراحانو پرخلاف دمظاهره کوونکو د ژوری او کرکی زیاتیدونکی څپه پراخه او مظاهره کوونکو دامریکا ئی ضد شعارونو په ورکولو سره په افغانستان باندی دامریکا احتمالی برید ونه په کلکه وغندل.

په وغو مظاهروکی چی دکراچی ښاریانو دپراخی غونډی سبب شوی دپاکستان دجمعیت العلما ی اسلام مشر محترم مولانا فضل الرحمن خبری وکړی او امریکا او دهغی متحدین یی په نړی کی داسلام دمبین دین او داسلامی نظامونو پیژندل شوی دښمنان وبلل م.

دغه راز مظاهره کوونکو دبوش مجسمی ته داور په اچولو سره دامریکا او په سرکی یی دجمهوررئیس بوش په نسبت خپله ژوره کرکه او نفرت څرګندکړ او دامریکا او دهغوی متحدینو دظلمونو او ددښمنانه طرحو پرخلاف یی دمسلمه امت دیووالی او پیوستون غوښتنه وکړه.

دغه راز دپاکستان دپیښور ښار هم پرون یو ځل بیا دپیښور ښار یانو دسترومظاهرو ډګر وؤچی مظاهره کوونکو مړه دی وی امریکا ژوندی دی وی اسلام او مړه دی وی داسلام دمبین دین دښمنان دشعارونو په ورکولو سره زیات واټونو نه ووهل او دامریکا لخوا په افغانستان باندی دبرید هر راز طرحه او پروګرام یی مردود وباله او په افغانستان کی تپل شوی حکومتونه یی احمقانه او غیر عملی طرحه وبلله.

ددښمن ٦ تنه ...

کی فعالیت کاوه دخپلو وسلو پنځه پنځوسو تنو وسلوالو افرادو په ګډون دفاریاب په ولایت کی داسلامی اردو دمیشتو مجاهدینو له لیکو سره یوځای شول.

داسلامی اردو له لیکو سره یوځای شوی قوماندانانو داسلامی اردو دمجاهدینو له لیکو سره دخپل پیوستون علت زموږ دهیواد په حریم باندی دامریکا احتمالی برید ونه او پردیو پرخلاف جهاد وباله دیوبل خبرله مخی یو تن پخوانی مخالف قوماندان، قوماندان عسکر چی دتخار ولایت دنمک آب په سیمه کی فعالیت کاوه ورمه ورځ پدغه ولایت کی داسلامی اردو له میشتو مجاهدینو سره یو ځای شو دغه قوماندان داسلامی اردو له مجاهدینو سره دخپل پیوستون انګیزه او علت په افغانستان باندی دبرید دامریکا ګواښونه او برغلګرو پرخلاف دجهاد دپیل کولو په لاره کی دافغان مجاهد ملت تیاری وباله.

دغه قوماندان دخپلو شلو تنو وسله والو افرادو په ګډون ورمه ورځ دتخار ولایت دنمک آب په سیمه کی داسلامی اردو له مجاهدینو سره یو ځای شو.

بکتن زاني ....

گردیده بود بلافاصله توسط موظفین امنیتی ان ولایت دستگیر و بعدازطی مراحل دوسه نسبتی نامبرده به اساس فیصله محکمه نظامی ولایت فاریاب حد شرعی یکصد دره دبروز بالایش تطبیق گردید.

درمحفلیکه بهمین مناسبت تدویر یافته بود محترم ملا سید جانان آغا مجددی والی فاریاب محترم مولوی امان رئیس محکمه نظامی محترم مولوی سید احمد رئیس شورای علما وعده ازعلمای کرام اشتراک نموده بودند محترم رئیس محکمه نظامی ولایت فاریاب در رابطه به ارزشهای معنوی و اجتماعی جلوگیری از مفاسداجتماعی درکشور صحبت نموده تطبیق احکام الهی را درامر عاری ساختن مفسدات در جامعه بااهمیت خواندند.

استرداد یک اثر ...

بزرگی را درخواست کرده اند، این نقاشی که اثر مارك شاوون است درماه جون به سرقت رفته وبهای تقریبی آن حدود یك ملیون دالر تخمین زده شده است.

پولیس امریکا گفت براساس یك نامه ایکه به پولیس ارسال گردیده قیمتیکه سارقین برای پس دادن نقاشی مارك شاوون طلب کرده اند صلح بین فلسطینی ها و اسرائیل است. مقامات پولیس گفته اند تحقیقات نشان میدهد که این نامه واقعی است ولی دقیقاً نمیدانند که سارقین چطور انتظار دارند مسوولان موزیم بتواند قضیه صلح در شرقیمانه را عملی سازند.

امین

جالب و خواندنی

اطفال امریکائی در تخت خواب والدین خفه میشوند

براساس نتایج بررسی ها ی کمیسیون محصولات مصرفی ایالات متحده امریکا سالانه شش صد طفل خورد سال که درکنار والدین خود درتخت خواب انها می خوابندخفه شده جان شانرا از دست میدهند نتایج این بررسی که در آرشیف طبی کودکان ونوجوانان امریکا بچاپ رسیده حاکی از این است که بیشتر ین تعداد مرگ ومیر اطفال کمتر از یکسال را در برمی گیرد که بین تو شك وکناره تخت خواب والدین تحت فشار قرارگرفته وجان میدهند.

علاوه برین اطفال خورد سال ممکن است بدلیل گرفتار آمدن درفرورفتگی توشك دچار خفگی شوند یا اینکه پدرومادر مست هنگام خواب روی ان ها غلطیده باعث خفگی شان شوند.

سگهای گداگر

حیوانات را برای مقاصد متعددی تر بیت می دهند مثلاًدرسهم گرفتن صحنه های فیلم برای ایفای نقش، در ماین پاکی برای کشف ماین ها، برای جستجوی سارقین و امثالهم ولی دست اند رکاران تربیت حیوانات در تایلند دست به ابتکار عجیبی زده اند که خشم وانزجار گداگران انسانی را علیه آن ها برانگیخته است.

متصدیان تایلند ی برای گدایی درجاده و بازار سگهارا آموزش داده اند. این سگها درجاده های مزدحم بنکاك از رهگذران پول در یافت می دارند واین عادت به یك پدیده عادی مبدل شده است این سگ های گدا گر درحالیکه ظرف هایي برای جمع آوری پول در مقابل شان گذاشته شده یا کیسه هایي درگردن شان آویخته شده درکنار جاده ها پهلومی گیرند وشب هنگام صاحبان سگ ها این پول های جمع آوری شده بی سروصدا را به جیب شان میریزند.

شاگرد

دبنگله دېش ...

ځواکونو ائتلاف په پارلمان کی د (١٨٦) څوکیو په ګټلو بریالی شویدی.

دغه انتخابات له تاوتریخوالی سره جوخت و چی په نتیجه کی یی څو تنه ووژل شول

یهودو دفلسطین ...

کی دمیشتو فلسطینیانو او داسرائیلو پوځیانو ترمنځ په پرونیو نښتو کی څه ناڅه ١٦ تنه فلسطینیان ټپیان شول.

په دغو سیموکی میشتو فلسطینیانو دهغو دیارلسو تنو فلسطینی شهیدانو ددرناوی لپاره چی تیرکال دیاځون په ملاتړ لاریون په ترڅ کی داسرائیلو دغاصبو پوځونو لخوا پدي د سیمه کی ووژل شوي ؤ په دغو مظاهرو لاس پوری کړی ؤ.

هغه فلسطینیان چی په ١٩٤٨ میلادی کال کی په نیول شویو سیموکی ژوند کوی له هماغه کال څخه راپدیخوا په مستقیمه توګه دصهیونیستانو تر واکمنی لاندی دی.

داروپا دامنیت ...

کنګره کی چی اوس یی ددغه هیواد حکومت په واک کی دی زیاته کړه.

له روسیی سره دهمکاری تر څنګ باید داروپا وس زیات شی چی نیتجی به یی داروپا او امریکا ترمنځ دحقوقو برابری وی.

بیش از دوملیون ...

بگزارش شبکه تلویزیونی CNN براساس مطالعاتیکه از طرف مقامات قضایی امریکا صورت گرفته از جمله جمعیت دوصدو پنجاه ملیون نفری امریکادواعشاریه صفر هفتادویك میلون نفرزندانی هستند که این تعداددرجهان بی سابقه است.

این تعداد محبوسین در توقیفگاهای دولتی وخصوصی ودر ندامت گاهای جوانان ومراکز نگهداری اتباع بیگانه در وضعیت بدی محبوس هستند، ازجمله ایالت های ایالات متحده امریکا که بیش از دیگر ایالات زندانی دارند کلیفورنیا و تکزاس است.

حدود چهل شش فیصد زندانیان امریکا را سیاه پوستان تشکیل میدهند.

درحالیکه سیاه پوستان از جمعیت کل امریکا دوازده فیصداست سی وشش فیصد زندانیان درامریکا سفید پوست هستند وپانزده فیصد دیگر مکزیکی تبار می باشند.

غنی

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجـــه!
ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید